ليکوال: د. ا. محمد حق نيکزاد نيټه ۲۶-۱۲-۲۰۱۰

# ديوه هيواد اقتصاد په کومو شرايطوکي
## پرمختګ او وده کولای سي؟

ديوه هيواد داقتصاد په پرمختګ او وده کي ډير عوامل دخيل دي خو په خاصه توګه د هغه هيواد د وګړو وطن پرستی، تقوی، په کار کولو کي نوښت راويستل، په کارکی دمهارت، علاقی او پانګه اچوني او بې تعصبه کارکول ډير رول او ونده لري. داتوله به لنډ تفصيل سره وڅيړو.

۱. وطن پرستي (Patriotism) او د وطن سره محبت: هر څوک بايد د خپل وطن د پرمختګ سره مينه او علاقه ولري او هغه داچي په وړاندي تګ يی خوشحاله او په وروسته پاته کيدو يی غمګين سي.همدارنګه بايد داسي احساس ولری چي د هري پديدی په وړاندي د خپل ځانه يو جدي عکس العمل وښيی. څومره چي يوه هيواد پرمختګ کړی وي په هغه اندازه د هغه هيواد وګړي ورسره مينه لري. خپل مادي او معنوي توان يی د هغه په انکشاف ورکولو کې په کار اچولی وي. دانسان د ژوند ټولي ښيګڼی د هغه د کار اوزحمت ثمره ده. د خلګو دا عام متل ښځايه نه دی چې وايي (چې نه لري سړي نه دي کروت خوري نه غوړي). که څوک دوطن شتمنيو ته په بده سترګه ګوري او هغه ورانوي، ددي مانا داده چي دخپل وطن سره مينه نه لري. لاری، پلونه او ښوونځی هغه کسان ورانوي چي اصلا ددي خاوري سره هيڅ مينه نه لري او يا داچي د يوي شيږي دپاره پوستين ته اور اچوي. داډول کارونه بالکل غلط او بې مانا دي.

۲. پرهيزګاري او تقوا(Piety): دايوبل اصل دی چي د وطن په ابادئ کي ډير مهم رول لري هر څوک بايد خپل حق وپيژني او د بل د حق احترام ولري او داسې کار ونه کړي چي د بل چا پر حق باندي تجاوز وکړي. د هر کار په اجراکولو کي د بی تفاوتي څخه کار وانخلي، هر کار په پوره صداقت پر خپل وخت باندي اجراکړي او د هغه په اجراکولو کې داسي طمعه ونه کړي چې ګويا دا کار کوم خو بايد رشوت او درغلی ورسه مل وي. د پيسو په مقابل کي د يوه حق ناحقه کول او بل ناحقه بيا حق ګرځول. دا ډول کارونه نه يوازي ناروا کارونه دي بلکه د وطن د بربادئ سبب هم ګرځي. په کار داده چی په هر کار کي د قانون او شرعت څخه کار واخلي.

۳. په کار کولوکی نوښت Innovation او ابتکار راويستل: په کار کي نوښت راويستل دا بل مهم اصل دی چي بايد په نظر کي ونيول سي. دموټر کوم ماشين چي په ابتدا کي جوړسويدی او کوم چي اوس جوړيږي په هيڅ ډول د پرتله کولو وړ نه دي. دا مثال او ددی مثال په ډول نور کارونه سويدی چي دا ټوله په کار کي د نوښت نتيجه ده. هر سړی بايد د ژوند په اوږدو کي په ورسپارل سوي کار کي متفکر وی او د خپلو ورځني کارونو په اجراکولو کی نوښتونه راولي.

٤. دکار کولو مهارت، علاقه او پانګه اچونه يا Investment :هر کار ځانته خپل اصول او شرايط لری او هغه دا چي دلته په کار دي چي داسې پوښتنه مطرح کړو چي څه وکړو، په کومو وسايلو يی وکړو او په چايی وکړ؟ يا په بل عبارت، په کار کي بايد کار واهل کارته وسپارل سي اوهغه داچې په کارکي د پوره مهارت په درلودلوسره د کارکولو سره علاقه درلودل او بالاخره د کار د وسايلو دلاسته راوړلو دپاره د لازمو موادو او وسايلو د لاسته راوړولو د پاره د پوره پانګي اچول ضروری او لازمي شرايط دي.

٥. په کار کي د تعصب Fanaticism څخه ځان ساتل: د پورتنيو شرايطو په نظر کی نيولو سره په کار دي چي د هيڅ ډول تعصب څخه کار وانخيستل سي او کار وهغه چا ته وسپاری چي په هغه کي پوره مهارت ولري او د هغه د اجراکولو سره سرشاره علاقه ولري. داسې نسې چي راوبط پر ضوابطو باندي غلبه وکړي، په دې ياهغه نامه بي مسلکه خلګ په کاروګمار ل سي.

پای


افغان جرمن آنلاين تاسو په درنـښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ